# دلته دا مهال
# شری خپرېږي



## شری خپرېږي

شری یوه ساري ناروغي ده چې د یوه وېروس له امله را منځته کېږي. دا کېدای شي خطرناکه وي، په ځانګړې توګه د ماشومانو او کم عمره کوچنیانو لپاره. خپله کورني او ټولنه خوندي کړئ.

**کله چې یو ناروغ کس ټوخی یا پرنجی کوي، شری په هوا کې خپرېږي.** کله چې په شري اخته کس له ساحې څخه وځي، شری په هوا کې تر 2 ساعتونو لپاره پاتې کېږي. دا ډېره ساري ناروغي ده، هغه کسان چې د شري واکسین یې نه وي ترلاسه کړی او په شري له اخته کس سره نږدې کېږي، د 10 کسانو له جملې څخه 9 تنه یې په دې ناروغۍ اخته کېږي.

**د شري نښې نښانې په وېروس له اخته کېدو څخه 7 تر 14 ورځې را څرګندېږي: د شري عامې نښې نښانې عبارت دي له:**



- **لوړه تبه** (کېدای شي له 104°فارنهات درجو څخه لوړه شي)
- **ټوخی**
- **د پوزې بهېدل**
- **سرې/ اوبلنې سترګې**
- **داني** (د نښو نښانو له پیلېدو 3 تر 5 ورځې وروسته را څرګندېږي)

**شری کېدای شي د شدیدو روغتیایي ستونزو لامل شي لکه:**



- **سینه بغل**
- **د مغز پړسوب** (انسفالایتس)
- **حتی مرګ**



## د شري پر وړاندې ستاسو د خوندي کولو غوره لار...

د شري، دړېغوری او روبیلا (MMR) واکسین دی. د واکسین ترلاسه کول هېڅکله ناوخته نه دی. واکسین ستاسو، ستاسو تر څنګ خلکو او ټولنې په خوندي کولو کې مرسته کوي. که تاسو واکسین شوي نه یاست، په کور کې پاتې شئ یا د ګڼې ګوڼې له ساحو څخه لرې پاتې شئ تر هغې چې په سیمه کې د شري پېښې را کمې شي، چې په ځانګړې توګه په خپلې کورنۍ کې هغه کسان خوندي کړئ چې کېدای شي خورا ډېر ناروغ شي.

**که چېرته تاسو فکر کوئ چې تاسو یا ستاسو په کورنۍ کې کوم بل څوک په شري اخته دي، له نورو څخه لرې پاتې شئ او د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي، بېړنۍ پاملرنې یا د بېړنۍ پاملرنې خونې ته زنګ ووهئ.**